پوهاند محمد بشیردودیال

۲۰۲۴/۰۲/۲۱

# زموږ یوه لویه ستونزه او د هغې حل

## (میشتېدل / ومیشت کول settlement)

څو ورځي مخکي یو ځل بیا د غره د ښویېدو او د یو شمېر هیواوالو د وفات خبر نشر شو. دا ځویم ځل دی چي بیلابیلو ځایونو کي یا دغرونو او غونډیود ښویېدو یا د سیلاو له امله ناوړه پېښي رامنځته کیږي. له دې ډول ناوړه پېښنو برعلاوه؛ د نفوسو د اسکان لپاره د حکومتي پالیسی دنشتوالي له امله له لاندې ستونزو سره مخ یاستو:

- ځینو سیمو کي دنفوسو بيځآیه زیات تراکم،
- د ډیرو ښو حاصل ورکوونکو زمکو له لاسه وتل او زراعتی استعمال په رهایشي بدلول،
- کوروںو ته د زمکي ښوییدو، زلزلو، زیم او سیلاو له امله زیان رسیدل،
- په سیمه کي د لازمه عامه خدماتو د نشتون له امله د خلکو ستونزې،
- دچاپیریال ساتنې ستونزې،
- امنیتی ملحوظات،
- سیاسي- اداري متناسب تشکیلات رعایتول،
- د کورنو مخې ته دلازمي فضا او کافی شني ساحي نشتوالی او داسې نورې ستونزې.

ډیره ضرور ده چي دا مسئله د حکومت پالیسي کي (دنفوسو د میشت کولو settlement) تر عنوان لاندې شامله شي. Settlement اصطلاح بیلابیلی ماناګاني لري، خو زموږ بحث یواځي په دیموګرافی کي دی. دلته لاندنی مانا ورځخه مطلوبه ده:

Settlement is a place where people live. This can be a community that's smaller than a town, like a village. Also, if one country establishes a colony somewhere else, that can be called a settlement .

په وضاحت سره زموږ مطلب دا دی چي دخلکو د اسکان برخه کي حکومت مسئولیت لري. دلته د settlement اصلاح هم میشتوالی او هم یو محل کي د میشتولو مفهوم رسوي. حکومت د خلکو داستوګني لپاره د سرکونوپه کښلو، دبریښنا په رسولو اود ابو په برابرولو سره کلیو ته ډیر ښه انکشاف ورکولای شي. په دې سره د ښارونو اوسنی نامساعد حالت اصلاح کیږي. اوس زیاتره هیوادو کي دکلي ویلا ګاني او ولسوالیو کي ژوند (باکیفیته) تعریف شوی دی. اسکان او میشت کیدل د دیموګرافی بحث دی، متاسفانه دې برخه کي موږ ډیر وروسته پاتي او بیخبره یاستو. کله چي موږ د خپلو نفوسو د تراکم، کثافت اوویش( population density and distribution) مسئلې ته نظر کوو، زښت زیات خپه کیږو. ځینو سیمو کي د نفوسو تکاثف یو مربع کیلومترکي ۱،۷ تنه او یوشمیر سیمو کي تر شلو اوړی(!)( له بده مرغه زموږ احصائیوی کالنی دې برخه کي دقیق ارقام نلري). له دې برعلاوه حکومت مکلف دی، دنفوسو د اسکان لپاره هغه سیمي وټاکي چي محلی اقتصادی منابع په غوره توګه ترکار لاندې راشي، حساس فرهنګی میراث خطر سره مخ نشي، زراعتی او صنعتی محل ټاکنه وشي، د راتلونکو لویو انکشافی پروژو ساحه نه وي، د استملاک ستونزه ونلري، د کان او ملی پارک ساحه نه وي، سیلاو لرونکی او ښوییدونکی نه وي.

### وړاندیزونه:

پیشنهاد کوم چي د اقتصاد، کرني او انجنیری پوهنځیو کی دی دیموګرافی مضمون دوو سمسترونو کي ځای پرځای شي. پیشنهاد کوم چي د کلیو د پرمختیا او ښاروالیو مسئولین دې برخي ته په علمی ډول پام واړوي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ